2 017550 139621

# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ دویمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۲مه | ۵۵۴مه گڼه

## ولایت
۴ مخ

### هرات

هرات د هېواد په لوېدیځ کې پروت او لومړۍ درجه ولایت دی، چې د لوړو منارو، تاریخي سیمو او اثارو د درلودو له امله یې خورا شهرت موندلی دی



### چارواکي: د ننگرهار د خرما حاصلات به روان کال شپږو زرو کیلو گرامو ته ورسېږي



د ننگرهار چارواکي وایي، د دغه ولایت د خرما حاصلات به روان کال شپږو زرو کیلو گرامو ته ورسېږي .
د چارواکو په خبره، د ننگرهار کانال د خرما بڼ د تېر کال حاصلات دوه زره کیلو وو، چې روان کال به دغه شمېره درې برابره لوړه شي.
د دوی په خبره، د جلال اباد ښار په سویل کې د کانال اړوند د خرما حاصلات به نه یوازې ننگرهار، بلکې د هېواد نورو ولایتونو ته هم ولېږدول شي. دوی وایي: «په ۱۳۹۸ لمریز کال کې یې حاصلات دوه زره کیلو وو، خو په ۱۳۹۹ لمریز کال کې اټکل دی چې درې برابره ډېره خورما ورکړي.»
د یادونې ده چې په ننگرهار کې د خرما ونو شنو کېدو او حاصل د کرنې او مالدارۍ وزارت پام ځانته اړولی، چې په نورو ولایتونو کې هم سوداگریزو بڼونو جوړېدو ته یوه طرحه جوړه کړې.

# د دوحې تر هوکړې وروسته خونړۍ جگړه؛

## ملگري ملتونه: طالبانو د تمې خلاف د سولې تر هوکړې وروسته جگړه شدیده کړې ده




۳

د رسنیو قانون د تعدیل تر شا څه دي؟ ۲ مخ
د افغانستان اوبه او د گاونډیانو اندېښنې ۲ مخ
سیاست دولت سازی نظامی گرایانه امریکا در افغانستان ۳ مخ

### یوناما: ښکېلې خواوې دې جگړه بنده او ژر تر ژره د سولې خبرې پیل کړي

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د ځانگړي استازي د دفتر مشرې ډېبورا لاینز په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مرستیال ملا برادر سره لیدلې دي.
د یوناما په رسمي ټویټر کې لیکل شوي چې مېرمن لاینز له ملا عبدالغني برادر سره په خبرو کې په افغانستان کې د سولې په اړتیا غږېدلې ده.
سرچینې لیکلي: «ډېبورا لاینز په قطر کې د طالبانو د مرستیال ملا برادر سره دوستانه ملاقات وکړ. د ملگرو ملتونو استازې د یوې داسې عادلانه سولې اړتیا په گوته کړه چې د ښځو، ځوانانو او اقلیتونو په گډون ټول افغانان په کې شامل وي.»
یوناما نه دي ویلي چې دا غونډه څه خت شوې ده، خو دا لومړی ځل دی چې د یوناما مشره قطر کې له طالب مشر سره مخامخ خبرې کوي.
دا په داسې حال کې ده چې ملگرو ملتونو له افغان حکومت او طالبانو په وار وار غوښتنه کړې چې جگړه بنده کړي او سوله وکړي. ملگرو ملتونو همدغه راز غوښتي چې د جگړې ټولې غاړې باید د کرونا ویروس سره مبارزې ته ډېر پام وکړي.
د ډېبورا لاینز او ملا برادر ترمنځ دا ملاقات داسې مهال کېږي چې ویل کېږي بین الافغاني مذاکرات به ژر پیل شي. افغان حکومت د دغو خبرو لپاره استازي ټاکلي او وایي چې ژر به نېټه او ځای یې اعلان شي. دواړه خواوې هیله لري چې په بین الافغاني مذاکراتو کې به افغانستان کې دایمي سولې ته یوه لار ولټول شي.

### عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په کمېدو دي



۵ مخ

### ولسی جرگه: تلاش برای ایجاد محدودیت در برابر آزادی بیان و رسانه‌ها پذیرفتنی نیست



در پی مخالفت مسؤلان رسانه‌ها و خبرنگاران با طرح تعدیل قانون رسانه‌های همگانی، ولسی جرگه نیز دیروز با این طرح مخالفت کرد. معاون نخست ولسی جرگه می گوید که کمیسیون تقنین این نهاد این طرح را زیر بررسی دارد و تلاش برای ایجاد محدودیت در برابر آزادی بیان و رسانه‌ها در آستانهٔ گفت‌وگوهای صلح نگران کننده‌است و پذیرفتنی نخواهد بود.
محمد میرزا کتوازی، معاون نخست این جرگه دراین باره اظهار داشت: «یگانه دست‌آوردی که ما در نزدیک به دو دهه اخیر داریم بخش رسانه‌ها و مطبوعات است و ما هیچ‌گونه در قانون این را نمی‌پذیریم که بر کار و فعالیت رسانه‌ها محدودیت ایجاد کند.»
بربنیاد طرح تعدیل در قانون رسانه‌های همگانی که حکومت در تلاش تصویب آن از سوی ولسی جرگه است، افشای منبع خبرنگار بی حکم محکمه با صلاحیت به کارمندان دولتی چون پولیس، امنیت و ثارنوالی، سپردن صلاحیت بررسی و فیصلهٔ دربارهٔ پرونده‌های تخطی رسانه‌ها به کمیسیون رسیده‌گی به تخطی‌های رسانه‌یی به جای محکمه، زمینه‌سازی برای سانسور و محدودسازی در برنامه‌های خارجی رسانه‌ها و آسان سازی لغو جواز کار رسانه‌ها بخش‌های نگران کننده استند. عزیز رفیعی، رئیس مجتمع جامعه مدنی افغانستان بیان داشت: «اگر این عرصه [آزادی بیان] متضرر شود، در واقعیت امر افغانستان بیست ساله دست‌آورد خودرا از دست می‌هد، امیدوار استم که عقل سلیم سیاست مداران ما حاکم باشد و ما بتوانیم این ارزش بزرگ را حفظ کنیم.» در پی این همه نگرانی‌ها وزارت اطلاعات و فرهنگ می گوید که بازنگری قانون رسانه‌های همگانی برای تقویت آزادی بیان است.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

دریـــغ

## د رسنیو قانون د تعدیل تر شا څه دي؟

حکومت په دې وروستیو کې د رسنیو قانون تعدیل کړی او ځینې مهم بدلونونه یې پکې راوستلي دي. که څه هم وروستی طرحه لا تر اوسه ملي شورا ته نه ده لېږل شوې، خو داسې وېره ده چې ښایي دا چاره د ملي شورا رخصتۍ ته وځنډول شي او بیا یې په اړه ولسمشر تقنیني فرمان ورکړي.

د رسنیو په قانون کې دغه تعدیل د ژورنالېستانو او د رسنیزو فعالینو اندېښنې را پورته کړې دي. دا تعدیل له ژورنالېستانو او رسنیو سره له مشورې پرته راغلی دی. یعني مخکې له دې چې په دې اړه له ژورنالېستانو او رسنیو سره مشوره وشي او بیا د هغوی د مشورو په رڼا کې د اړتیاوو پر اساس په دغه قانون کې بدلون راوړل شي، حکومت په یو اړخیز ډول په دغه قانون کې تعدیلات راوستي دي. حیرانوونکې دا ده چې په قانون کې په هغو برخو کې بدلون راوستل شوی چې بدلون ته یې اړتیا نه وه، خو هغه ځایونه همداسې پاتې دي چې پکار وه تعدیل پکې راغلی وی. مثلاً؛ په نوي قانون کې رسنۍ او ژورنالېست مکلف دي چې د خپل خبر منبع حکومتي ادارو (پولیسو، ملي امنیت او ښاروالۍ) ته افشا کړي، خو په پخواني قانون دا کار یوازې د با صلاحیته محکمې له حکم وروسته کېدلی شوی. په پخواني قانون کې دا یو ښه ټکی و، چې اوسنی تعدیل یې ستونزې جوړې. اوس به ډېرې کسان رسنیو ته معلومات نه ورکوي؛ ځکه چې ژورنالېست اړ دی چې خپله سرچینه په ډاګه کړي او په دې ډول به سرچینې ته ستونزې جوړېږي. نور بدلونونه هم همداسې دي چې له بده مرغه ستونزې جوړوي.

حکومتي چارواکي لا هم ډاډ ورکوي چې د بیان ازادي نه گواښل کېږي او محدودیتونه نه لگول کېږي، خو په قانون کې راغلي تعدیلات په واضح ډول د محدودیتونو د زیاتولو مانا لري. د حکومت دغه گام د اساسي قانون خلاف دی او د بیان د ازادۍ د محدودولو او استبدادي نظام پر لوري یو گام دی. په ملي یووالي حکومت کې او بیا له هغه وروسته په دې نوي معاملهیي حکومت کې له ارگه هڅه دا ده چې حکومت استبدادي شي. له همدې امله ملي شورا بې مانا شوې ده. مشرانو جرگه د ولسمشر د یو سکرټریت په شان عمل کوي، ولسي جرگه هم پڅه ده. عدلي او قضایي بنسټونه هم پوره حکومتي شوي دي او هر څه چې ارگ ورته وایي، هغه کوي. د لویې ښاروالۍ او سترې محکمې ډېرې کړنې سیاسي شوي او حقوق او قوانین پکې ښنگ ته شوي دي. یوازینی ځواک چې پاتې دی، هغه رسنۍ دي چې په حکومت کې یې د ناقانونۍ، ظلم، فساد، گډوډۍ او د حکومتي مشرانو د ناسمو سیاستونو په اړه دریغ درلود او خلک یې خبرول. اوس ارگ هڅه کوي چې دا وروستی غږ هم غلی کړي. که څه هم په رسنیو او ژورنالېستانو له پخوا فشارونه وو، خو اوس حکومت د یو ستر گام د اخیستو هڅه کوي. له همدې امله یې پیل د رسنیو په قانون کې له تعدیل څخه وکړ او که په دې چاره کې بریالی شي، نو بیا به د رسنیو پر ضد عملي گامونه اخلي او د بیان د ازادۍ پر مرۍ به پښه ږدي.

رسنیو، ژورنالېستانو، د بیان د ازادۍ ملاتړو او په ټوله کې ولس ته پکار ده چې د حکومت د دغه کار مخه ونیسي او پرې نږدي چې د خلکو د غږ پورته کولو دا وروستی مرچل هم د مفسدینو او قانون ماتوونکو له خوا لاندې شي او دا ستره لاسته راوړنه له منځه ولاړه شي.

# د افغانستان اوبه او د گاونډیانو اندېښنې

لیکنه: عبدالرشید نایل

**دویمه برخه:**

**د اوبو کچه او وروستۍ وچکالۍ**

په افغانستان کې د ورښتونو کلنۍ کچه متفاوته ده، چې تر ټولو ډېره یې په شمال ختیځو سیمو کې او کمه یې په سوېلي سیمو کې په وچو او دښتو لرونکو برخو کې ده. په سوېل کې د ورښت کچه هر کال له ۱۰۰ تر ۳۰۰ ملي‌مترو پورې رسېږي او په لوېدیځو سیمو کې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ ملي‌مترو پورې تخمینېږي. اوسط کلنۍ کچه یې ۷۷ ملي‌متره په زرنج کې او ۱۱۷۰ ملي‌متره په سالنگ کې تخمین شوې ده او د ټول افغانستان په کچه بیا هر کال د ورښت کچه ۲۸۵ ملي‌متره اټکل شوې ده. په اوسط ډول هر کال په افغانستان کې د ۱۶۵۰۰۰ ملیون متر مکعب ورښت په پایله کې ۵۷۰۰۰ ملیون متر مکعب د ځمکې پر مخ بهېدونکې اوبه تولیدېږي، چې فی نفر کچه یې په کال کې ۲۲۸۰ تر ۲۷۷۵ متر مکعب پورې تخمین شوې ده.

په نورمالو کلونو کې د افغانستان ټولې کلنۍ اوبه ۷۵ میلیارد متر مکعبه اټکل شوې دي، چې ۵۷ میلیارد متر مکعب یې د ځمکې د سطحې او ۱۸ میلیارده متر مکعب یې د ځمکې لاندې سرچینو اوبه دي. داسې تخمینونه شته چې د افغانستان له گډو اوبو څخه ۴۰ میلیارد متر مکعب یې گاونډیو هېوادونو ته ځي او افغانستان په ټولیز ډول له خپلو ټولو سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو څخه یوازې شاوخوا ۲۵ سلنه (۲۰ میلیارد متر مکعب) یې خپله مصرفوي او پاتې ۷۵ سلنه یې گاونډیو هېوادونو ته بهېږي (جدول-۲). که څه هم د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکو د معلوماتو له مخې، افغانستان له خپلو ټولو ۷۵ میلیارد متر مکعب اوبو څخه یوازې ۳۰ سلنه یې خپله کاروي او پاتې ۷۰ سلنه گاونډیو هېوادونو ته ځي.

د وروستیو کلونو وچکالیو د افغانستان د اوبو کچه هم د پام وړ کمه کړې ده. د افغان چارواکو په خبره، د افغانستان د پنځو حوزو اوبه په ټولیز ډول ۱۴ سلنه کمې شوې دي او د ټولو ۵۷ میلیارد متر مکعب سطحي اوبو کچه اوس ۴۹ میلیارد متر مکعب ته راښکته شوې ده. د وروستیو کلونو د وچکالیو له کبله، په ډېرو سیمو کې د ورښتونو کچه شاوخوا ۶۰ سلنه راکمه شوې ده او له کبله یې زیات شمېر خلک کډوالیو ته هم اړ شوي دي. په افغانستان کې د اوبو کمښت بېلابېل لاملونه لري. د نفوس زیاتوالی، د اوبو د سرچینو ناسم او بې‌ځایه مصرف او کمزورې مدیریت، تر ځمکې لاندې اوبو کمېدل او ککړوالی او اقلیمي بدلونونه یې مهم لاملونه دي. دا فشار تر ټولو ډېر د کابل سیند په حوزه کې احساسېږي چې کابل ښار ته اوبه ورکوي او په ټولیز ډول د افغانستان ۳۵ سلنه یا ۸ میلیونه نفوس د دې حوزې اوبه کاروي. د دغې کچې ٤,٥ میلیونه یې یوازې په کابل ښار کې ژوند کوي او داسې اټکلونه شته چې دا شمېر به تر ۲۰۵۰ کال پورې ۸ میلیونو ته ورسېږي. په دې توگه کابل ښار د نفوس له پلوه د نړۍ پنځم پراخېدونکی ښار او د اوبو له پلوه تر ټولو ډېر فشار لرونکی هغه دی.

د ځینو څېړنو له مخې، یوازې د پلازمېنې اوبه په تېرو لسو کالو کې ۱۵ متره ښکته تللې دي، چې په ځینو سیمو کې یې بیا دا کچه ان تر ۴۰ مترو پورې هم رسېږي. د کابل ښار په لوېدیځ کې په یوه مشخص مورد کې یو ۳۰ متره ژور څاه، کابو اته کاله وړاندې اوبه لرلې او وروسته وچ شوی؛ خو اوس په ۲۰۱۸ کال کې بیا په همغه ځای کې ۷۰ متره ژور څاه یو ځل بیا وچ شوی، چې له اته کاله وړاندې سره ۴۰ متره توپیر لري.

د اوبو د کچې ټیټوالی او ترې راټوکېدونکې ستونزې داسې مهال دي، چې د ملگرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د معلوماتو (۲۰۱۴) له مخې، په بېرونیو سرچینو پورې د افغانستان د اوبو د تړاو نسبت ۲۸,۷ سلنه دی، چې دا نسبت د بېلگې په توگه په پاکستان کې ۷۷,۷ سلنه دی او افغانستان له هغو هېوادونو دی چې په پراخه کچه د اوبو سرچینې لري. د دې تر څنگ، افغانستان د سطحي اوبو د زېرمه کولو ښه پوتنشیل لري؛ خو له بده مرغه د اوږدو جگړو او بې‌ثباتیو له کبله دا مهال د اوبو د ذخیره کولو ډېره کمه وړتیا لري او په دې برخه کې د اوبو د زېرمه کولو لومړنۍ تگلارې بیارغونې ته اړتیا لري او تر څنگ یې له پرمختللې ټکنالوژۍ په گټې اخیستنې سره د سترو زېرمو د رامنځ ته کولو او سترو او پرمختللو ذخیروي بندونو د پراختیا جدي اړتیا لیدل کېږي.

**د افغانستان د اوبو حوزې**

افغانستان د اوبو پنځه سترې حوزې او ۳۶ فرعي حوزې (مرستندوی سیندونه) لري. پنځه سترې حوزې یې آمو سیند، هریرود- مرغاب سیند، هلمند سیند، کابل سیند او د کابل په شمال کې بهېدونکي سیندونه دي چې د شمال حوزه هم بلل کېږي.

**د آمو سیند حوزه**

آمو حوزه د ارال بحیرې د سترې حوزې څانگه ده. پنج- آمو سیند د پامیر له غرونو سرچینه اخلي او شاوخوا ۲۲۷۸۰۰ کیلومتره مربع سیمه تر پوښښ لاندې لري. دا سیند دوې اساسي ښاخې لري: شمالي هغه یې د پامیر سیند دی چې د پامیر غرونو له لوړې څوکې (زورکول) څخه سرچینه اخلي او د افغانستان او تاجکستان تر منځ مشترک دی. سوېلي شاخه یې واخان سیند دی چې له چقمقتین جهیل څخه سرچینه اخلي. دا دواړه سیندونه د قلعه پنج په لوېدیځ کې سره یو ځای کېږي او د پنج په نوم سیند جوړوي او تر علي خانوم پورې غځېږي. له کوکچې سیند سره له یو ځای کېدو وروسته آمو سیند جوړوي؛ شمال ختیځ لوري ته بهېږي او له خم‌آب څخه له تېرېدو وروسته په ازبکستان کې ارال بحیرې ته تویېږي.

آمو حوزه د مساحت، کلنیو اوبو اوسط مقدار، په دې حوزه کې مېشت نفوس او په کرنیز سکټور کې یې د ونډې له پلوه د افغانستان له پنځو سترو اوبیزو حوزو شمېرل کېږي. دغې حوزې په افغانستان کې د اوبو د ټولو حوزو ۱۴ سلنه سیمه نیولې ده. همدا راز د افغانستان ۱۴ سلنه نفوس تر دې حوزې لاندې راځي او په هېواد کې د ټولې کرنیزې ځمکې ۲۳ سلنه یې له دې حوزې خړوبېږي. د دغې حوزې د اوبو کلنۍ کچه ۲۲ میلیارد متر مکعب تخمین شوې ده.

د تخمینونو له مخې، د پنج- آمو سیند حوزې په دښتو کې د ورښتونو کلنۍ کچه ۳۳٦ ملي‌متره ده چې د افغانستان د اوبو د نورو حوزو له کچې زیاته ده. په افغانستان کې د آمو حوزې د اوبو اخیستلو سیمه ۹۰٦۹۳ کیلومتره مربع ده چې د ټولې حوزې ۲۷ سلنه اوبه ترې تر لاسه کېږي او له تاجکستان وروسته دویم هېواد دی چې دغې حوزې ته ډېرې اوبه ورکوي.

دغه راز دا سیند په سیمه کې تر ټولو اوږد سیند هم دی چې ټول اوږدوالی یې ۲۵۴۰ کیلومترو ته رسېږي. ۱۲۵۰ کیلومتره یې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان په پوله کې بهېږي او په ارال بحیره کې پای ته رسېږي. په اوسط ډول یې هر کال ٥،۱ میلیارد متر مکعب اوبه ازبکستان ته بهېږي، ٤۹،٦ میلیارد متر مکعب اوبه یې تاجکستان ته او ۱،٥ میلیارد متر مکعب اوبه یې هم ترکمنستان ته بهېږي. کافرنهان، وخش او نور سیندونه یې مهم مرستیالان بلل کېږي؛ خو د افغانستان په خاوره کې د ننه یې پنج، کندوز او کوکچه مهم مرستیالان سیندونه دي.

**د کابل سیند حوزه**

کابل سیند د افغانستان یوازینی هغه سیند دی چې د اوبو د یوې سترې حوزې (د سند یا اېندوس سیند) شاخه ده او د هند تر اقیانوس پورې رسېږي. دا سیند د افغانستان په شمال- ختیځ کې له لوېدیځ څخه ختیځ لوري ته بهېږي او په پای کې د پاکستان له سند سیند سره یوځای کېږي. ټول اوږدوالی یې ۷۰۰ کیلومتره دی، چې ٥٦۰ کیلومتره یې د افغانستان او پاتې د پاکستان په خاوره کې بهېږي. دا حوزه په افغانستان کې له ۷٦۹۰۸ کیلومتره مربع ځمکې یا د ټول مساحت له ۱۲ سلنه برخې څخه اوبه اخلي او د مساحت له پلوه له هلمند او آمو سیندونو وروسته د هېواد درېیمه ستره اوبیزه حوزه بلل کېږي.

په دې حوزه کې شاوخوا ۱۱،٦ میلیونه تنه (د افغانستان ۳۷ سلنه نفوس) ژوند کوي او له همدې کبله د تر ټولو ډېر نفوس لرونکې حوزه ده؛ ځکه د شمال په حوزه کې چې دویمه پُرنفوسه حوزه ده، په هر کیلومتر مربع کې د نفوس تراکم ۳۹ تنه دی؛ خو په دې حوزه کې بیا دا کچه ۹۳ تنو ته رسېږي او دا چاره د کابل ښار او دغې حوزې د اوو نورو ولایتونو د شاملېدو له کبله ده.

کابل سیند د پغمان د اونۍ درې له لوېدیځې برخې سرچینه اخلي او د کابل ښار په منځ کې تېرېږي. په بگرامي سیمه کې له لوگر سیند سره، په نغلو کې له پنجشېر سیند سره، د قرغیو په سوېل کې له الینگار سیند سره او په کامه کې له کونړ سیند سره یو ځای کېږي. د دغې حوزې د اوبو کلنۍ کچه ۲۰،۷٦ میلیارد متر مکعب تخمین شوې او د هېواد ۲۰ سلنه کرنیزه خاوره ترې خړوبېږي.

کابل سیند له خپلو نورو شاخو سره لکه لوگر، پنجشېر، غوربند، لغمان- علینگار او کونړ سیندونه، په افغانستان کې د شته اوبو د سرچینو شاوخوا ۲٦ سلنه تشکیلوي او دا چې میلیونونه افغانان له دغو سرچینو څخه د څښلو، روغتیا ساتنې، کرنې، د برېښنا تولید او صنعت لپاره گټه اخلي، د پام وړ اهمیت لري. د دې حوزې مهمې سیمې، کابل ښار، جلال‌آباد، چاریکار، پل علم، مهترلام او اسعدآباد دي.

په دې حوزه کې د ورښت کلنۍ اوسط کچه چې په ۱۹۵۷-۱۹۷۷ کلونو کې تحلیل شوې وه، ۳۳۰ میلي متره وه؛ خو دا حوزه په ژمي کې د یخې هوا او ډېر ورښت لرونکې وي او په اوړي کې بیا ډېره گرمه وي او د ورښتونو کچه پکې کمه وي. په اوړي کې د دې حوزې اوبه د واورو له ویلې کېدو څخه لاسته راځي.

**دوام لري...**

# د محدودیت کمښت او د کرونا پراختیا؛

## پـه ټوله نړۍ کې د کرونا وبا له کبله ۴٦۸ زره او ۵۱۴ تنه مړه شوي دي

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر 8.99 میلیونو کسانو ته رسېدلی دی. د یادو شمېرو پر بنسټ د دغه ویروس له کبله تر دې دمه ۴٦۸ زره او ۵۱۴ تنه مړه شوي او نږدې پنځه میلیونه نور ببرته رغېدلي دي.

امریکا لاهم کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې له 2.34 میلیونو اوښتي او دغه راز ۱۲۲ زره او ۱۲۷ نورو امریکایان د یاد ویروس له کبله مړه شوي دي.

له امریکا وروسته په برازیل کې دغه ویروس په ډېرې چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. په برازیل کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې یو میلیون او ۷۳ زره او ۳۷٦ ته رسېدلې او دغه راز د دې وبا له کبله ۵۰ زره او ۱۸۲ تنه مړه شوي دي.

څېړونکي وایي چې په برازیل کې په کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر تر دې خورا ډېر دی؛ ځکه چې د ټېسټ یا ازمېښت وسایل په هر ځای نه شته.

په ورته وخت کې د برازیل پر ښي اړخي ولسمشر ایېر بولسونارو د کرونا ویروس د بحران پر وړاندې د اقداماتو له کبله نیوکې ډېرې شوې دي. ده ټولنیز واټن بابېزه گڼلی او هغه یې په دې خاطر چې د کار او روزگار مخه نیسي، تر ویروس خطرناک بللی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد په لسگونو ښارونو کې د روانې جون په یوولسمه سوداگریز مرکزونه ببرته پرانیستل شول. اوس د امریکا له متحده ایالتونو وروسته تر بل هر هېواد د کرونا مثبتې پېښې په برازیل کې ډېرې ثبت شوې، خو په متحده ایالتونو کې اوس د کرونا ویروس د خپرېدو شدت کم شوی دی.

دغه راز د امریکا په اکثرو ایالتونو کې د بندیزونو د لرې کېدو او د کاروبار د بیا پیلېدو له کبله وېره ده چې د کرونا ویروس د خپرېدو دویمه څپه خپره شي.

روغتیایي چارواکي، دا اندېښنه هم لري چې ممکن کرونا ویروس د هغو پراخو مظاهرو له لارې هم خپور شي چې د توکم‌پالنې پر ضد په وروستیو اونیو کې په امریکا کې روانې دي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اوکلاهاما په ټولسا کې د انتخاباتي کمپاین په لړ کې د کرونا ویروس پر ضد د خپلو اقداماتو دفاع وکړه.

ده دا هم وویل چې هر څومره ډېر ټېسټونه چې اخیستل کېږي، په هماغه اندازه د کرونا ویروس د مثبتو پېښو زیات شمېر معلومېږي او د دې لپاره ده له چارواکو غوښتي چې ازمېښتونه یو څه ورو کړي.

# سیاست دولت سازی نظامی گرایانه امریکا در افغانستان

نویسنده: مرسلین ارسلا- کوبها دیالوگ

آغاز دهه دو هزار میلادی که به نام «عصر تروریزم» نیز یاد می شود، منجر به شکل گیری سیاست خارجی با رویکرد نظامی و یا به عبارت بهتر، سیاست خارجی مبتنی بر نظامی گری در ایالات متحده امریکا گردید.

با توجه به تهدیدی که از سوی القاعده به عنوان بازیگر غیر دولتی متوجه امنیت ملی و منافع امریکا در جهان بود و برخی دولت ها از این گروه میزبانی و حمایت می کردند، ایالات متحده تصمیم گرفت که به دنبال رویداد ۱۱ سپتمبر، سیاست خارجی تهاجمی با مدیریت و رهبری نظامیان را روی دست گیرد.

بر بنیاد این سیاست، برخی رژیم ها به ویژه حکومت های بنیاد گرا که زمینه شکل گیری و فعالیت گروه های رادیکال و تروریستی را فراهم ساخته بودند باید از هم می پاشیدند و دولت های جدید دموکراتیک هم سو با نظم امریکایی شکل می گرفتند.

بر خلاف گذشته که سیاست دولت سازی امریکا در جهان بیشتر با ایجاد نهادها، ترویج آزادی و ایجاد اتحاد و همکاری با کشور ها زمینه شکل گیری دولت های دموکراتیک را فراهم می ساخت، این بار مداخله ایالات متحده امریکا از راه به کار گیری خشونت و مداخله مستقیم نظامی بود که سبب فروپاشی رژیم حاکم ضد رویکرد امریکایی و برنامه ریزی برای شکل گیری دولت جدید می گردید.

ایده شکست تروریزم

اصل و مبناء سیاست خارجی مبتنی بر نظامی گری ایالات متحده را ایده شکست تروریزم و بر چیدن رژیم های بنیاد گرا تشکیل می داد. زیرا سیاست گذاران و استراتژیست های امریکا به این باور بودند که وجود دولت های ضعیف و حکومت های بی کفایت در شرق میانه و جنوب آسیا باعث شده است، تا گروه های افراطی در این مناطق شکل گرفته و حیات خلوت را برای گروه های تروریستی همانند شبکه القاعده فراهم سازد. بناءً نخست باید برخی از این دولت ها مورد حمایت قرار گیرند تا از حالت شکننده و ضعیف بیرون شوند و شماری دیگر از این رژیم ها و دولت ها باید فرو بپاشند و بجای آنان دولت های جدید، مسؤل و پاسخگو به امنیت و صلح بین المللی شکل گیرند.

در سیاست خارجی این چنینی به رژیم ها و گروه های که انعطاف پذیر بودند و تمایل به قطع رابطه با گروه های تروریستی داشتند، فرصت چندانی برای مذاکره و سازش داده نشد، بلکه روی هم رفته سیاست سرکوب گرایانه با استفاده از نیروی مداخله گر نظامی در پیش گرفته شد. هرچند این سیاست در برخی مواقع همانند قضیه افغانستان و عراق در کوتاه مدت نتیجه داد و سبب فروپاشی رژیم طالبان و حزب بعث در عراق گردید، اما با گذشت زمان، بقایای این دو رژیم ساقط شده به دست واشنگتن، سر بلند کردند و مانع تطبیق سیاست دولت سازی امریکا در این دو کشور شدند.

با توجه به اولویت مبارزه علیه تروریزم در سیاست خارجی ایالات متحده در سال های بین ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۴ میلادی، در کُل میتوان ادعا کرد که روابط استراتیژیک و اتحاد میان امریکا و متحدین آن کاملاً شکل نظامی را به خود گرفت و در چنین حالت و با تشدید درگیری ها و نا امنی در افغانستان، طرز نگاه واشنگتن به قضیه دولت سازی در افغانستان نیز نظامی بود. ایالات متحده به این باور شد که تنها راه بیرون رفت از وضعیت این است که دولت نوین شکل گیرد و با تمرکز بر تشکیل قوای مسلح ملی که بتوانند جانشین نظامیان خارجی شده و تهدید موجود در درون مرزهای افغانستان را که در سیاست خارجی امریکا «شورشگری» تعریف شده بود، از بین ببرند. اما از جانب دیگر، سیاست گذاران و جنرالان امریکایی خروج از افغانستان در چنین وضعیت را اشتباه پنداشته و پیوسته به رهبران سیاسی امریکا توصیه می کردند که خروج نظامیان امریکایی از افغانستان سبب حملات بیشتر بر امریکا و منافع این کشور در منطقه خواهد شد، بناءً دولت نوین افغانستان باید در حضور نظامیان امریکایی تقویت شده و حاکمیتش را گسترش دهد.

تجربه جوان دولت سازی

به روند دولت سازی در تایوان، به عنوان یک تجربه جوان نگاه می کنیم. ایالات متحده امریکا و جاپان به عنوان تمویل کننده گان بزرگ روند دولت سازی در این کشور تلاش کردند تا با توجه به تهدیدی که از سوی چین و کوریایی شمالی متوجه این کشور بود، نهادهای دولتی را ایجاد و تقویت نمایند، اما این سیستم در روند دولت سازی افغانستان دنبال نشد، زیرا با دنبال کردن پروژه های کوتاه مدت انکشافی به هدف جلب همکاری مردم محل در میدان های نبرد و ایجاد ثبات و تمرکز اصلی بالای مبارزه علیه تروریزم، نقش حکومت ملی در روند دولت سازی نا دیده گرفته شد. تا دهه دوم حضور ایالات متحده در افغانستان نیز ۸۲ فیصد کمک های انکشافی و روند دولت سازی، خارج از بودجه دولت افغانستان و از طریق شرکت های قرار دادی به مصرف رسید. از این رو مدیران داخلی و دولت های تمویل کننده روند دولت سازی بالای مؤثریت پروسه دولت سازی تمرکز نکردند، بلکه نبود ظرفیت داخلی برای مدیریت این روند و تمرکز ایالات متحده امریکا بالای مبارزه علیه تروریزم و سرکوب شورش گروه های جنگجو در داخل افغانستان باعث شد، تا روند دولت سازی از پروسه ساختاری تغییر جهت داده و به یک روند امنیتی- نظامی مبدل شود که در نتیجه آن دولت سازی نظامی گرایانه شکل گرفت.

دولت ها در افغانستان برای تامین امنیت فزیکی و ثبات سیاسی شان همواره نیازمند کمک و همکاری خارجی به ویژه قدرت های بزرگ و هژمون های منطقوی بوده و به عنوان دولت های وابسته (Rentier States) حکومت کرده اند. دولت امریکا تاکید داشت که برای بر چیدن بساط تهدید دایمی در برابر امنیت امریکا و متحدین آن، باید یک دولت با ثبات و مسؤل نزد صلح و امنیت بین المللی در افغانستان به وجود آید. ولی تلاش برای شکل گیری چنین دولتی از راه سرمایه گذاری بر نهادهای ملکی و تقویت نهادهای انکشافی و اقتصادی دنبال نشد، بلکه تلاش ها برای شکل گیری چنین دولت و نهادهای دموکراتیک در دوام حضور نظامیان خارجی و دوام جنگ جستجو شد. از همین رو وضعیت نظامی برای سال ها دوام پیدا کرد.

ایالات متحده امریکا بخشی از بودجه و هزینه مالی را در آن مناطق افغانستان هزینه کرد که بیشترین نا امنی را شاهد بود. هدف از این کار پایان دادن به روحیه خارجی ستیزی و ایجاد روحیه همکاری در روند دولت سازی، به ویژه شکل گیری نهادهای دموکراتیک بود، پدیده یی که روستا نشینان افغانستان آن را پدیده تحمیل شده خارجی می پنداشتند و گروه های افراطی با بهانه قراردادن آن به ساده گی توانستند از میان روستا نشینان سرباز گیری کنند و جنگ جاری شان را مقاومت ملی جلوه دهند.

ایستادگی طالبان در برابر روند دولت سازی

روند دولت سازی و دوام آن نیازمند تامین امنیت و رسیدن کشور مورد مداخله به ثبات لازم است، تا در پرتو این امنیت و ثبات روند دولت سازی، توسعه و نهاد سازی از سوی نیروی مداخله گر به پیش برده شود و دولتی که قرار است شکل بگیرد نیز برای رسیدن به خود کفایی و مبدل ساختن پروسه دولت سازی از بیرون به یک روند ملی، نهادهای خود را تقویت نماید.

آنچه روند دولت سازی را در افغانستان به چالش کشید و منجر گردید تا برای سال های متمادی وضعیت به شکل امنیتی-نظامی باقی بماند، ایستاده گی طالبان در برابر تمامی روند هایی بود که برای شکل گیری دولت در افغانستان آغاز و دوام پیدا می کرد. طالبان نه تنها در برابر نظامیان خارجی، بلکه در برابر هر پروژه و روندی که حتی از سوی خود افغان ها با حمایت مالی- سیاسی خارجی ها نیز آغاز شده بود، ایستاده گی کردند و پروسه دولت سازی را به چالش می کشیدند. دوام این وضعیت باعث شد تا رهبری دولت نو تشکیل در افغانستان نیز به این نتیجه برسد که حضور نیروهای خارجی برای دوام روند دولت سازی یک نیاز اساسی است. چنانچه حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان (۲۰۱۴ – ۲۰۰۳) در سال ۲۰۰۵ میلادی گفت: «اگر نیروهای خارجی در افغانستان حضور نداشته باشند، دولت افغانستان یک ماه دوام نخواهد آورد.» و محمد اشرف غنی جانشین وی (۲۰۲۰-۲۰۱۴) نیز ده سال بعد در سال ۲۰۱٦ چنین دیدگاه را مطرح کرد. این اظهارات شکننده گی روند دولت سازی و نیاز به حضور نظامیان خارجی در صحنه روند دولت سازی را نشان میدهد.

دید نظامی- امنیتی ایالات متحده به افغانستان

ائتلاف نظامی جهانی که در سال ۲۰۰۱ میلادی به رهبری ایالات متحده امریکا برای مبارزه با تروریزم شکل گرفت، متشکل از بیش از ۵۰ کشور جهان بود و هر یک از کشورهای مذکور سهم شان را در روند دولت سازی افغانستان به اساس تعهد نظامی به این ائتلاف و با توجه به تعداد نظامیان شان در افغانستان و جغرافیایی انجام می دادند که در چارچوب ماموریت نظامی از سوی ایالات متحده امریکا در قلمرو افغانستان به آنان سپرده شده بود و کشور مذکور مکلف بود تا از تامین امنیت گرفته تا اجرای پروژه های بازسازی، تمویل نیروهای مسلح محلی و در کُل روند دولت سازی در ساحه تحت مسؤلیت‌ش را به اجراء بگذارد. با توجه به این که مؤلفه و آغاز روند دولت سازی در افغانستان یک رویداد امنیتی- نظامی (رویداد ۱۱ سپتمبر) بود و با توجه به این که فلسفه حضور امریکا در افغانستان شکست القاعده و بر چیدن تهدیدات امنیتی- نظامی در برابر امریکا و متحدینش بود، در روند دولت سازی نیز به بُعد نظامی بیشتر توجه می شد و تلاش شد تا سرمایه گذاری بیشتر بالای نهادها و تشکیلات امنیتی- نظامی صورت گیرد. از سوی دیگر حضور گروه های تروریستی و دوام جنگ از طرف این گروه ها در برابر نظام افغانستان و ایجاد تهدید در برابر امنیت جهان باعث شد تا وضعیت نظامی دوام کرده و حتی روند دولت سازی نیز با رویکرد نظامی به پیش برده شود.

در نهایت دید نظامی- امنیتی ایالات متحده امریکا به افغانستان و اجرای روند دولت سازی با رویکرد نظامی سبب شد تا تمامی سه مرحله دولت سازی: حمله، بازسازی و شکل گیری ثبات از وضعیت امنیتی- نظامی متاثر شده و منجر به عدم کارایی سیاست دولت سازی ایالات متحده امریکا در افغانستان شود.

# د دوحې تر هوکړې وروسته خونړۍ جګړه؛

## ملګري ملتونه: طالبانو د تمې خلاف د سولې تر هوکړې وروسته جګړه شدیده کړې ده



په افغانستان کې د طالبانو له لوري پر ډېر شوي تاوتریخوالي د نیوکو پر دوام، تازه ملګرو ملتونو هم غبرګون ښودلی دی. د ملګرو ملتونو عمومي منشي د افغانستان په اړه په خپل یوه راپور کې ویلي چې د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته د تمې خلاف د تاوتریخوالي کمېدو پر ځای د طالبانو لوري جګړه شدیده شوې ده. افغان حکومت هم وايي چې د طالبانو له لوري تاوتریخوالی ډېر شوی او ملکي مرګ ژوبله لوړه شوې ده. طالبان بیا دا راپور یوه تشه ادعا بولي او افغان حکومت د جګړې په ډېرولو تورنوي.

تر هغه وروسته چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، ټاکل شوې وه چې ډېر ژر بین الافغاني خبرې پیل شي او تر هغه وروسته به پر اوربند بحثونه کېږي چې په افغانستان کې به جګړې کمې کړي. خو اوس د تمې پرخلاف جګړه ډېره شوې او طالبانو پر افغان ځواکونو بریدونه ډېر کړي دي. نه یوازې دا، بلکې طالبانو د کرونا وبا د خپرېدو له پیله د ملګرو ملتونو د بشري اوربند غوښتنې ته هم منفي ځواب ورکړ او جګړو ته یې ادامه ورکړه.

اوس تازه ملګري ملتونه په یوه راپور کې چې په راتلونکو دریو ورځو کې به د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې شي، ویلي چې طالبانو د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته په خپلو بریدونو کې ډېروالی راوستی دی. په دغه راپور کې راغلي: ((طالبانو د سولې هوکړې وروسته د تمې پرخلاف بریدونو کې دوه سلنه ډېروالی راوستی دی)).

د ملګرو ملتونو په راپور کې پر طالبانو غږ شوی چې له جګړو لاس پر سر شي او دواړه خواوې دې ژر تر ژره د سولې بین الافغاني خبرې پیل کړي. ملګري ملتونه وايي چې د کرونا وبا او جګړو په افغانستان کې فقر او کډوالي ډېره کړې او د دې اړتیا ده چې دلته روانه جګړه ژر تر ژره د خبرو له لارې حل شي او مذاکرات مثبتې پایلې ولري.

له دې سره جوخت د ملي امنیت شورا هم وايي چې د طالبانو بریدونه ډېر شوي دي. د دغې شورا ویاند جاوید فیصل وايي، طالبانو په تېره یوه اونۍ کې په اتلسو ولایتونو کې ګڼ بریدونه کړي چې ۱۸ ملکیان یې وژلي او ۱۰۵ نور یې ټپیان کړي دي. ملګري ملتونه بیا وايي چې طالبانو د هوکړې تر لاسلیک وروسته په دریو میاشتو کې ۵۵۴۳ بریدونه کړي چې دوه سلنه زیاتوالی ښيي، خو برعکس د افغان حکومت په هوايي بریدونو کې بیا ۴۷ سلنه کموالی راغلی دی.

بلخوا د سولې د مرکچي پلاوي غړي بیا وايي چې د کرونا خپرېدو او ځینو نورو مسایلو لکه د زندانیانو په ازادۍ کې ځنډ د سولې مخامخ خبرې ځنډولې دي. د افغان حکومت له لوري د دغه پلاوي غړی نادر نادري بیا وايي چې د هېواد له مخورو او مشرانو سره د سولې په تړاو مشورې روانې دي او په وینا یې، په دغو مذاکراتو کې به سرې کرښې د همدې مشورو پر بنسټ تعنېږي.

له دې سره جومت په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازې او د یوناما مشرې په دوحه کې د قطر دفتر له مشر سره پر سوله خبرې کړې دي. نوموړې ټینګار کړی چې طالبان باید تاوتریخوالی کم کړي او ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرې پیل کړي. هغې همدا راز په افغانستان کې د اقلیتونو، ماشومانو او مېرمنو د حقوقو پر خوندیتوب هم ټینګار کړی دی.

طالبانو بیا په یوه غبرګون کې د ملګرو ملتونو او ملي امنیت شورا راپورونه تشې ادعاوې بللې وې او په خبره یې افغان حکومت د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مسوول دی، ځکه هوايي بریدونه کوي، صحي مرکزونه په نښه کوي او عام خلک وژني.

تر ملګرو ملتونو مخکې د افغانستان پر بیا رغونه د امریکا سرمفتش جان سوپکو هم په یوه راپور کې ویلي وو چې طالبانو پر افغان ځواکونو بریدونه ډېر کړي دي او د سولې هوکړه د تاوتریخوالي د کمېدو سبب نه شوه. نوموړي ټینګار کړی و چې باید ژر تر ژره بین الافغاني خبرې پیل شي څو دلته روانه جګړه پای ومومي.

## د کتاب خبرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ

### لسم څپرکی




ته باید په دې حقیقت خپه نشې، ځکه موږ ټول په ځان کې دغه خبرې لرو. زما په وجود کې هم یو ناکام او منفی کس ژوند کوي. هره ورځ یو ساعت زما واک په لاس کې اخلي. مجبور یم چې هر سهار باید یو انتخاب کړم چې له ما سره له خوبه کوم یو راپاڅېدلی، شتمن که نېستمن؟ ناکام، که بریالی؟ دغه زما سهارنی جنګ وي. یانې زه هر سهار په خپل وجود کې ناکام او نېستمن کس ویده پرېږدم او د وجود له بریالي او شتمن کس سره را پاڅېږم.

په حقیقت کې موږ هر یو په ځان کې بېلې ځانګړنې لرو او غواړو چې ځوک واوسو. ما غوښتل خوشاله ګډ ژوند ولرم، په نړۍ کې رول ولرم او له رواني اړخه ازاد واوسم.

دې خبرې ته ښه غوږ ونیسئ. هر وخت چې زموږ وېره، شک او نفسي کمزوري پر موږ بریالی شي، نو په وجود کې مو ناکام اړخ را ښکاره شي. که ګډې موخې زده کړو او اغېزناکې او پیاوړې کیسې سره وکړو، نو د ځان پر ناکام اړخ بریالي کېږو او ځاني بریا مو څرګندېږي. که د اغېزناکو کیسو ویل زده کړو، اصلاً به مو د بریالي اړخ را ښکاره کول زده کړي وي.

زیات خلک د کار جاري ساتلو، د مایوسیو د حل او د اصلي موخو د تعقیبولو وړتیا نه لري. دوی کله هم دغه مهارت نه دی زده کړی. د دې مهارت زده کړه خورا اړینه ده. دا هغه مهارت دی چې په B کونج یا تجارت کې زده کېږي. مثلاً، تشبث تر ټولو تر ټولو غوره ځیز دی چې په شبکه یي بازارموندنه کې یې ترلاسه کوئ.

کله چې مې په زیرکس شرکت کې کار کاوه، پوره دوه کاله وخت یې ونیو چې خپلې توانایۍ ته ننوزم او د ځان بریالی اړخ را برسېره کړم. نژدې وو چې د دې دوو کلو په وروستیو کې مې له شرکته لرې کړي؛ خو له نېکه مرغه پر خپل نفس پر باور کولو بریالی شوم. پلور مې زیات شو او په راتلونکو دوو کلو کې د شرکت لومړی یا دویم کس شوم.

شبکه یي بازار موندنه تاسو ته له وېرې سره د مخامخ کېدو، مقابلې او پر هغې د بریالي کېدو موقع درکوي او ستاسو په ځان کې بریالی اړخ څرګندوي.

پر ځان باور لرل تر تنخوا ګټلو ډېر راته مهم وو. پر ځان بیا باور پیدا کول دومره اړین وو چې هېڅ قیمت یې نشم ټاکلی او د میلیونونو ډالرو په ګټلو کې یې مرسته راسره وکړه. زه به د زیرکس شرکت او د هغه د کارکوونکو تل مننذوی یم، ځکه ما ته یې پر وېره او شک بریالي کېدل را زده کړل.

زه نن د شبکه یي بازارموندنې سپارښتنه ځکه کوم چې دا بازارموندنه پر نفس باور پیاوړی کوي، لکه زیرکس چې په ما کې پیاوړی کړ.

شبکه یي بازارموندنه تاسو ته له وېرې سره د مخامخ کېدو، مقابلې او پر هغې د بریالي کېدو موقع درکوي او ستاسو په ځان کې بریالی اړخ څرګندوي.

تېروتنه ونه کړئ. له شبکه یي بازارموندنې سره یو ځای کېدل او د خپل تجارت رامنځته کول په ځان کې ناکام اړخ ته د ماتې ورکولو په مانا نه دي، بلکې کلونه وخت غواړي چې خپله رښتینې ازادي ترلاسه کړې. موږ د رښتینې ازادۍ خبرې کوو؛ خو تر هغو به ازادي ونه لرو چې مالي ازادۍ ته ونه رسېږو. د دې د موندلو لپاره زیات وخت ته اړتیا ده.

زه نړۍ ته راغلم چې هېڅ مې هم نه لرل. څو ځله مې شتمني لاسته راغله او بېرته ولاړه، نو پر دې پوهېږم چې د هرڅه له لاسه ورکولو په وخت کې احساس څنګه وي. په دغسې ستونزمنو وختونو کې زموږ د ځان ناکامه اړخ هرڅه په لاس کې اخلي. دا هغه وخت دی چې موږ ازمویل کېږو. ستاسو ملګري وایي:«ما درته وویل» او د کورنۍ غړي درته وایي:«فکر نه کوې دا به ښه وي چې په یوه مناسبه کوچنۍ دنده ځان اخته کړې او دا شبکه پرېږدې؟»

باور لرم داسې ورځې به راشي چې وایې به:«کاشکې مې د ځان واک خپل ناکامه اړخ ته ورکړی وای.» خو دا کار ونه کړئ. بریالي اوسئ!

**د پیلوټۍ ښوونځی**

ټول بوراګان مخکې تر دې چې په بوراګانو بدلې شي، د ورېښمو د چنجو غوزې جوړوي. د پیلوټۍ ښوونځی زما لپاره همداسې و. زه د عالي لېسې د فارغ په توګه هلته داخل شوم او د یوه چمتو پیلوټ په توګه ویتنام ته ولاړم.

که ما په غیرنظامي ښوونځي کې پیلوټي زده کړې وای، فکر نه کوم چې د پیلوټ په توګه به جنګ ته تللی وای. څه چې موږ د نظامي پیلوټانو په توګه زده کول، له هغه څه سره یې ډېر توپیر لاره چې غیرنظامي پیلوټان یې باید زده کړي. مهارتونه بېل وو، د زده کړې سختوالی بېل و او په جنګ کې ګډون کول هر څه بدلوي.

د فلوریډا د الوتکو په لومړني ښوونځي کې مې دوه کاله تېر کړل. د درجې تر لاسه کولو وروسته د کلیفورنیا د پیلوټۍ د زده کړې پنډلټون کمپ ته ولاړم. دا خورا سختې زده کړې وې. د الوتکې تر زده کولو جنګ ډېر رانسودل کېده.

**دوام لري...**

# هرات

حشمت الله نوري



هرات د هېواد په لوېدیځ کې پروت او لومړۍ درجه ولایت دی، چې د لوړو منارو، تاریخي سیمو او اثارو د درلودو له امله یې خورا شهرت موندلی دی. دغه ولایت د عرض البلد په ۶۳مه او د طول البلد په ۴۳مه کرښه کې پروت دی. د هرات شمال ته بادغیس او د ترکمنستان جمهوریت، سوېل ته یې فراه، ختیځ ته یې د غور ولایت او لوېدیځ ته یې د ایران اسلامي جمهوریت پراته دي. د هرات د وګړو شمېر په ۱۳۸۸ لمریز کال کې ۱۶۷۶۰۰۰ تنه اټکل شوی او مساحت یې ۵۵۸۶۸،۵۳ کیلومتره مربع دی.

هرات لرغونی او تاریخي ښار دی چې په تاریخ کې په بېلابېلو نومونو یاد شوی او د اسلام ستر مرکز هم پاتې شوی دی. هرات په ۱۲ ناحیو او ۱۵ ولسوالیو وېشل شوی. شینډنډ، انجیل، غوریان، ګذره او پښتون زرغون یې لومړۍ درجه او اوبه، کرخ، کشک، ګلران، کهسان، زنده جان او ادرسکن یې دویمه درجه او کشک کهنه، فارسی او چشت شریف یې درېیمه درجه ولسوالۍ دي. مهم قومونه یې پښتانه، تاجک، هزاره، ترکمن، ازبک او ایماق دي. په یوولس سرحدي ولسوالیو کې یې د پښتنو نفوس زیات دی.

په دغه ولایت کې ۲۶۵۱ کلي شته او په ټولو هغو کې د ملی پیوستون شوراګانې فعاله دي. هرات د سلما په نوم یو د اوبو بند لري چې د هریرود په سیند جوړ شوی او په چشت ولسوالۍ کې موقعیت لري. دغه بند د ۴۲ مېګاواټه برېښنا ظرفیت لري، چې په جوړېدو سره به یې نه یوازې هرات او ګاونډي ولایتونه روښانه کړي، بلکې ۲۰۰ زره جریبه ځمکه به هم خړوبه کړي.

په هرات کې شعر او ادب د خلکو په طبیعت کې نغښتی او له همدې امله کلتوري او فرهنګي فعالیتونه هم په کې پراخ دي. له لرغونو زمانو څخه هرات د علم او ادب زانګو ده او په خپله غېږه کې یې ډېر ادبیان او شاعران روزلي دي. دغه ولایت یو مهال د سکندر مقدوني پلازمېنه وه. د هرات د ارګ یا اختیارالدین کلا یې د هماغه مهال د عظمت نښه ده.

ستر شاعر او صوفي خواجه عبدالله انصاري، عبدالرحمن جامي او نور هم د هرات د فرهنګي مخینې ښې بېلګې کېدای شي. اوس هم په هرات کې ډېر شاعران، سندرغاړي، لیکوالان او نور شته. ډېرې ادبي، هنري او فرهنګي ټولنې لکه انجمن ادبی هرات، استاد مشعل، پیر هرات، انجمن شعر و ادب، انجمن هنری استاد کمال الدین بهزاد، انجمن اجتماعی خواجه عبدالله انصار، اتحادیه مردم غور، اتحادیه اجتماعی ترکمنان، اتحادیه جوانان، اجتماع اخلاق و معرف، انجمن اجتماعی فرهنګی احمدشاه مسعود، انجمن نهضت جوانان، د سپینې ادبي کلتوري ټولنه، د ملالۍ کلتوری ټولنه، د ور ادبي ټولنه، د محصل فرهنګي او اجتماعي ټولنه، د شینډنډ د قلموالو ټولنه، د مشرقي ټولنیزه شورا، د مومندو ټولنه، د وردګو ټولنه، د میدانیانو ټولنه او د افغانانو ټولنه یې فعالې ادبي ټولنې دي. هرات له تاریخي پلوه خورا غني ولایت دی چې له همدې امله یونسکو د نړۍ په فرهنګي میراث (زرر ښاره زر ژونده) پروګرام په نوملړ کې هم شامل کړی دی.

پل مالان، د هرات مصلی، د خرقې مبارکې جامع مسجد، د هرات ارګ یا د اختیارالدین کلا، د هرات مسجد، د پیر هرات، شارخ میرزا، د مولانا، جامي، امام فخر رازي، شهزاده قاسم، شهزاده عبدالله، سلطان آغا، خواجه غلطان ولي، ملا واعظ کاشفي، خواجه عبداله انصاري، ملا ناسفنج او سید عبدالله مختار مقبرې، د هرات منارې او ګوهرشاد بېګم مسجد د دغه ولایت له تاریخي سیمو څخه دي.

هرات د تاریخ په اوږدو کې په خپله علم پرووره غېږ کې ډېر نومیالي روزلي دي. خواجه عبدالله انصاري، عبدالرحمن جامي، امام فخر راضي، خواجه غلطان ولي، میر عبدالواحید شهید، سلطان حسین بایقرا، ملکه ګوهرشاد بیګم، مهری هروي، سپینه ادې، فضل حق خالقیار، کمال الدین بهزاد، عبدالواحید بهره، میرویس صادق، امان الله خان نیکزاد، مولوي خدایداد صالح، امیر اسمعیل خان، رنګین دادفر سپنتا، امینه افضلي، ډاکټر همایون عزیزي، خیرمحمد خیرخوا، سید محمد خیرخوا، ډاکټر محمد داود شاه سبا او نور یې مشهور خلک دي.

د هرات لرغونې چاپي ورځپاڼه د اتفاق اسلام په نوم ده، چې ۹۵ کاله وړاندې یې لومړنۍ ګڼه له چاپه را ووته. دغه راز اوسمهال په ملي راډیو- ټلوېزیون سربېره په کې ډېرې غږیزې، انځوریزې او چاپي رسنۍ فعالیت لري چې دلته یې یادونه کوو: هرات ټلوېزیون، هرې، ساقي، میهن، آسیا، تابان، امید، ملت، سیمای غوریان، ترقي او اصلاح ټلوېزیونونه، د هرات، آموزش، د ځوان غږ، هرات کلید، سحر، فریاد، زحل او شهر زاد راډیوګانې هم پکې فعالې دي. دغه راز د اتفاق اسلام او اخبار روز ورځپاڼې، شهرما، معرفت، نسیم ایمان او هریوا میاشتنۍ مجلې هم له هراته خپرېږي.

په هرات کې پر ځایي رسنیو سربېره، ځینې نورې کورنۍ او نړیوالې رسنۍ هم اورېدل کېږي او لیدل کې چې په کې پر پژواک، رویټرز، باختر او نورو مهمو خبري اژانسونو سربېره د طلوع، شمشاد، اریانا، افغان، لمر، ملي او نور ټلوېزیونونه او د ازادي، بي بي سي، المان غږ، ارمان، اراکوزیا، ستا غږ او نورې راډیوګانې هم اورېدل کېږي.

په هرات کې دا مهال ۷۹۱ ښوونځي فعال دي چې ۷۵۰ زره زده کوونکي په کې پر زده کړو بوخت دي، چې نیمایي هغه یې نجونې دي.

یو دولتي او کابو لس شخصي پوهنتونونه او انستېټیوټونه په کې فعالیت کوي. دغه راز ۱۵ خصوصي ښوونځي هم په کې فعال دي. په هرات کې ټولټال دولس زره رسمي او کابو درې سوه تنه قراردادي ښوونکي پر دندو ګومارل شوي دي.

هرات هوار جغرافیایي جوړښت لري او په کې د هریرود سیند د تېرېدو له امله د کرنې لپاره ډېر امکانات برابر شوي. په غرونوکې یې په طبیعي ډول د بادام او پستې ځنګلونه شته، چې د سیمه ییزو خلکو د اقتصادي پیاوړتیا مهمې سرچینې دي. غنم، وریجې، جوار، انګور، مڼې، توت، انار او پر ګڼو سبو سربېره زعفران یې مهم کرینز محصولات دي.

په هرات کې لاسي صنایع او سوداګري د خلکو لرغونی دود دی. دغه ولایت تر میلاد وړاندې هم د ورېښمو د لارې پر سر مهم سوداګریز مرکز و، چې منځنۍ اسیا یې له چین او هغه یې له اروپا سره نښلوله. له لرغونو زمانو څخه یې د کاشي او ښیښې څخه جوړ وسایل په نړیواله کچه شهرت لري، چې ښه بېلګه یې د نړۍ په ځینو مهمو موزیمونو کې په هرات کې د جوړو شویو ښیښه یي او کاشي توکیو ساتل دي.

اوسمهال هم په هرات کې کابو څلور سوه صنعتي فابریکې او صنعتي ښارګوټي شته. په ۲۰۰۱ ز کال کې په دغه جوړ شوي ښارګوټي کې کابو شل زره افغان او ۳۰۰ بهرني کارګر پر کار بوخت وو. صنعتي ښار ګوټی یې د هرات ملکي هوایي ډګر ته مخامخ په ګذرې ولسوالۍ کې د هرات- کندهار پر لوی سړک ودان دی.

هرات له ایران او ترکمنستان سره دوه بندونه او دوه ګمرکونه هم لري. دغه ګمرکونه د اسلام قلعې او تور غونډۍ د بندرونو په نوم یادېږي چې خلکو ته یې په کې د کار روزګار زمینه برابره کړې او له اقتصادي ودې سره یې مرسته کړې ده.

په هرات کې ځوانان په بېلابېلو لوبو بوخت دي، چې تر اوسه په رسمي ډول ۱۵ سپورټي کلپونه له المپیک کمېټې سره ثبت دي. په دغو کمپونو کې د نجونو په ګډون ۱۱ زره ځوانان لوبې کوي. والیبال، باسکېټبال، جدو، د بدن ښکلا، پهلواني، وزلوبه او نورې یې غوره لوبې دي. دغه راز کرکټ، فوټبال، ځغاسته، تکواندو، ووشو، بدمنتون، کانګفو تکواندو، شطرنج، جوجیتسو، هاکي او کیک بوکسینګ لوبو کې هم زرګونه ځوانان بوخت دي.

همیانی

# که خوښ ژوند غواړی دغه ټکي عملي کړئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

که مو ژوند له خوښۍ سره سم هم نه وي روان، هڅه وکړئ چې خپلو موخو ته د رسېدو شوق او ذوق له لاسه ور نه کړئ او تل په دې هڅه کې وی چې تاسې باید خپلو موخو ته ورسېږی. که په ژوند کې بې انګېزې پاتې شوی، نو فکر وکړی چې د ژوند له ټولو خوندونو بې برخې شوي یاست. اړینه نه ده چې تاسې دې خپلو ټولو موخو ته ورسېږی او له ځانه سره فکر وکړی چې تاسې نو نه شی کولای، چې بریالي شی، پر ځان باور له لاسه مه ورکوئ، همدا چې تاسې تل په هڅه کې یاستی، موخو ته د رسېدو لپاره مو تخم کرلی، په صبر او حوصلې سره به دغه تخم شین کېږي او مېوه به کوي.
هېڅ وخت بل چا ته سترګې مه پټوئ. د هغه څه لپاره چې د اخیستو توان یې نه لری او یا ورته کافي پانګه نه لری، د بل قرض او دین ته غاړه مه ږدئ. د ژوند له کوچنیو خوښیو لکه پلې تګ، له دوستانو سره ناسته ولاړه او په طبعیت کې له یوې نبې ورځې تېرولو خوند واخلئ.
سمه خبره ده چې د پیسو سپما هم ګټوره ده، خو د دې پر ځای چې پیسې سپما کړی او ورځ تر بلې یې ارزښت را کم شي، ښه به دا وي چې پیسې مو پر کار واچوئ او پانګونه پرې وکړئ، ځمکه واخلئ او یا له چا سره ګډ کار شروع کړئ.
د دې لپاره چې په ژوند کې خوښ و اوسی؛ هڅه وکړئ چې د خپلې خوښې په کورسونو لکه کمپیوټر، خطاطۍ او د ژبې زده کړې(هغه که هره ژبه وي) لپاره نوملیکنه وکړئ او د ورځې په اوږدو کې ورشئ.
که وخت نه لری، نو د همدې اړوندو برخو سي ډي ګانې واخلئ او یا یې هم د انټرنېټ له لارې تعقیب کړئ. که وایی چې ماشومان او یا هم د کور کارونه پر غاړه لری، دا نو بیا هسې بهانې دي. تاسې باید په ډېر دقت او خلاص ذهن سره فکر وکړئ، په نویو نظرونو پسې وګرځئ، په دې کار سره به د وخت په تېرېدو سره درته معلومه شي چې تاسې څومره یو عام فهمه او ځیرک کس جوړ شوي یاستی. مور او پلار به مو هم په دې وياړي چې ستاسې په شان با بصیرته اولاد خدای پاک ور کړی.
هڅه وکړئ چې د ناستې ولاړې لپاره درته داسې ملګري وټاکی، چې د ژوند تر پایه د یوه ملګري او راز ساتونکي کس په توګه در سره پاتې شي. فکر وکړئ چې په ژوند کې هر څه ته رسېدلي یاستی، ایا بې له ملګري او خواخوږي مو ژوند پوره دی او بې له داسې چا ژوند کولای شی؟
نه هېڅکله هم دا څه امکان نه لري. اصلاً هغه اړیکې چې تاسې یې له کورنی، ملګرو او دوستانو سره لری، ستاسې لپاره د خوښیو یوه سرچینه ده. په ژوند کې مو کورنی، دوستانو او ملګرو ته هم وخت ځانګړی کړئ. که په خپل ژوند کې دغه ډله کسانو ته ځای او وخت ور نه کړی، پوه شی چې د ژوند اصلي خوند به هېڅکله هم ونه څکی.
تاسې یوازې یو وجود لری او بس، د هغه په قدر ځان پوه کړئ. کله چې ستاسې روغتیا له ګواښ سره مخ شي هغه وخت بیا هېڅ هم نه شی کولای. هڅه وکړئ چې ورزش ته مو د کارونو په اونیز مهالوېش کې ځای ورکړئ. له بې خاصیته غذاګانو څخه چې یوازې وزن مو زیاتوي، ځان وژغورئ. پوهېږم چې د عادتونو پرېښودل ستونزمن دي؛ خو د وخت په تېرېدو سره به له هماغه څه سره عادت شی او د خوښۍ احساس به وکړی.
که تاسې له ځانګړو مهارتونو برخمن وی، کولای شی له خپلو خپلوانو، کلیوالو او ګاونډیانو سره مرسته وکړی او ان د دوی لپاره کورس ونیسئ او خپل مهارت دوی ته هم انتقال کړی. که له مالي اړخه پر ځان بسیا وی، کولای شی هغه کسان چې له زده کړو سره مینه لري، خو د بېوزلۍ له کبله نه توانېږي، تاسې مرسته ور سره وکړئ څو دوی هم له دې نعمته برخمن شي. تاسې چې هر ښه کار تر سره کوی، له یوې خوا د خدای پاک رضا تر لاسه کوی او له بلې خوا ستاسې د خوښۍ سبب هم ګرځي. مجبور کسان په ټولنه کې کم نه دي، مالي وضعیت ته مو په کتو له هغوی سره مرسته وکړئ. مهمه نه ده چې تاسې فقیر یې که بډای، اصلي خبره دا ده چې تاسې هم د نورو خلکو په شان غواړی خپلو هیلو ته ورسېږی. په هر ډول چې یاستی پورته شئ او د ځان لپاره مو مهالوېش جوړ کړئ او د هغه له مخې مو خپل ژوند پر مخ بوځئ. ډاډه اوسئ هڅه مو اخر خپلو موخو ته رسوي او په ژوند کې به مو د خوښیو یوه غوغا جوړه شي. نو له همدې نن څخه چې لا هم ناوخته شوي نه ده، لاس پکار شئ!

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په کمېدو دي

عامې روغتیا وزارت وایي، پر کرونا د اخته کسانو وروستۍ شمېرې او نورې نښې نښيي چې په هېواد کې د دغه ویروس پېښې مخ پر کمېدو دي.
د یاد وزارت سرپرست وزیر احمد جواد عثماني په کابل کې خبریالانو ته وویل: «په لابراتوارونو کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر، د کرونا په ځانګړو روغتونونو کې د درملنې اړوندو بسترونو او پر کرونا د اخته کسانو له نښو نښانو جوتېږي چې دغه ناروغي ورو ورو په کمېدو ده.»
هغه زیاته کړې: «دا یو ښه خبر دی، خو اړتیا دا ده چې خلک نور هم د روغتیا وزارت لارښوونې جدي وګڼي، څو د خلکو ترمنځ د کرونا ویروس خپرېدل کنټرول شي.»



دا په داسې حال کې ده چې د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۴۰۹کسان او له هغه مخکې په ترتیب سره په هرو ۲۴ ساعتونو کې ٥٤٦کسان، ۳۴٦کسان او ٦٥٨کسان پر دغې ناروغۍ اخته شوي دي. له دې مخکې په یوه ورځ کې تر ۹۵۰ کسانو هم په افغانستان کې پر دغې ناروغۍ اخته شوي وو.
د عامی روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، تر اوسه په افغانستان کې ټول ۲۸۸۳۳کسان پر دې ناروغۍ اخته شوي چې له دې ډلې ۸۷٦۴ کسان بېرته روغ شوي، خو ۵۸۱کسان مړه شوي دي.
د عامې روغتیا وزارت سرپرست په پرونۍ ناسته کې دا هم وویل چې د ترکیې، چین، سعودي عربستان، ایران او ځینو نورو هېوادونو ۷۰ ټنه مرسته شوي روغتیایي توکي چې طبي وسایل، د کرونا مخنیوي اړوند بېلابېل توکي او څو ډوله درمل پکې شامل دي، د هېواد ۱٦ ولایتونو ته لېږدول کېږي.
نوموړي زیاته کړه چې پاتې نورو ولایتونو ته به هم ژر ۱۰۰ ټنه ورته توکي واستول شي. د روغتیا وزارت سرپرست وزیر په دې غونډه کې د ټولنیزو رسنیو هغه ادعاوې رد کړې چې ګواکې روغتیایي کارکوونکي د ناروغانو د بدن برخې وباسي او یا په پېچکاري کولو سره ناروغان وژني.
په دې وروستیو کې د ټولنیزو رسنیو ځینو فعالانو نیوکې کړې چې په کابل کې د کرونا روغتونونو ډاکټران ناروغان په دې پلمه وژني چې د بدن غړي یې ترې وباسي او سوداګري پرې وکړي.

## د سولې جرګې د دارالانشا او کمېسیون غړو ته د مډالونو ورکولو فرمان پلي کېدو مخه ډپ شوې

ولسمشر غني شاوخوا شپږ میاشتې مخکې د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون او دارالانشا غړو ته د مډالونو ورکولو فرمان صادر کړی، خو دغه فرمان لا هم نه دی عملی شوی.
د راپورونو له مخې، د سولې مشورتي څلور ورځنۍ لویه جرګه د ۱۳۹۸ کال د غویي په میاشت کې د ۳۲۰۰ کسانو په ګډون جوړه شوه او حکومت ته یې د سولې لپاره یوه طرحه ورکړه.
د یادې جرګې جوړېدو او چارو د سمبالښت په موخه د ولسمشر محمد اشرف غني د ۱۳۵مې ګڼې حکم پر بنسټ، د تېر ۱۳۹۸ لمریز کال د ورې میاشتې په ۱۱مه د سولې مشورتي لویې جرګې جوړولو کمېسیون لپاره غړي وټاکل.
د راپورونو له مخې، محمد عمر داوودزی د یاد کمېسیون مشر او ۱۹ کسان نور چې فضل کریم فضل، عبدالوهاب عرفان، عباس نویان، عبدالحق شفق، محمد ایوب رفیقي، عبدالرشید ایوبي، داوود کلکاني، صدیق پتمن، خان جان الکوزی، جماهیر




انوري، فوزیه ارال، ملالۍ شینواري، سید علي کاظمي، امین الدین مظفري، نسرین اوریاخېل، ضیاالحق امرخېل، نیلوفر ابراهیمي، سریراحمد برمك او روح الله نیازی پکې شامل دي، د دغه کمېسیون غړي وو.
ضیاءالحق امرخېل د لومړي او فوزیه ارال د دغه کمېسیون د دویم مرستیال په توګه او سید علي کاظمي او عبدالرشید ایوبي د ویاندویانو په توګه د یاد کمېسیون لپاره ټاکل شوي وو.
د یادې جرګې له پای ته رسېدو وروسته ولسمشر محمد اشرف تېر کال د لېندۍ میاشتې په ۲۸مه د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون او دارالانشا غړو ته د دولتي مډالونو د ورکړې په اړه یو فرمان صادر کړ.
په فرمان کې راغلي چې د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون او د دغه کمېسیون د دارالانشاء غړو ورسپارل شوې دندې په ښتینولۍ او بریا ترسره کړې، په اړوندو برخو کې یې د چارو په ترسره کولو کې فعاله ونډه اخیستې او غوره لاسته راوړنې لري.
په فرمان کې راغلي: «له همدې امله د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون دارالانشا د ۱۳۹۸ لمریز کال د لیندۍ میاشتې ۱۰مې د ۷۲۵مې ګڼې وړاندیز پر بنسټ، د دوی د غوره خدمتونو د قدردانۍ په موخه، د افغانستان د اساسي قانون د ٦۴مې مادې د ۱۹مې فقرې له حکم سره سم، د مل لېست مطابق د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون او د نوموړي کمېسیون د دارالانشاء ۳٦ غړو ته د دولتي مډالونو ورکړه منظوروم.»
د سولې د مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون یو شمېر غړي وایي چې د یاد فرمان په اړه هېڅ معلومات نه لري، خو ځیني بیا وایي چې د فرمان له صادرېدو خبر شوي، خو تراوسه یې مډالونه نه دي ترلاسه کړي. د سولې مشورتي لویې جرګې د جوړېدو کمېسیون غړې ملالۍ شینوارې وایي چې د مډالونو د ورکړې فرمان له صادرېدو خبره شوې، خو تراوسه چا ورته دغه مډال نه دی ورکړی.
په ورته وخت کې د یاد کمېسیون بل غړي چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي هم وویل چې دغه حکم تر اوسه نه دی عملی شوی. هغه زیاته کړه: «د پلي کولو مخه یې ډپ شوې او له جمهور رییس څخه را تاوکړې د یوه مډال د ورکولو مخه هم نیسي.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸٤,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۳,٦۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202500100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ دویمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۲مه | ۵۵۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ١٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵٦ | لمر ختل ۰٤:٤١ | ماسپښین ۱۱:۵٦ | مازیګر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




## صدیقی: کابینهٔ حکومت به‌زودی تکمیل و لیست نامزد وزیران اعلام می شوند



بیش از یک ماه پس از امضای توافق‌نامهٔ سیاسی میان اشرف و عبدالله عبدالله و ایجاد حکومت مشارکتی، تاکنون کابینهٔ این حکومت تکمیل نشده‌است.
ارگ ریاست‌جمهوری می گوید که پنجاه درصد کابینه از سوی رئیس‌جمهور در حال نهایی شدن است، اما تاکنون فهرست نام‌های اعضای کابینه که سهم آقای عبدالله عبدالله می‌شود به ریاست‌جمهوری نرسیده‌است. صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور اما می گوید که به‌زودی کابینه تکمیل می‌شود: «یک یا دو نهادی که باقی مانده، آن هم قرار است در یک یا دو روز آینده نهایی شود. اما ما منتظر فهرستی استیم که از طرف اقشار سیاسی با ما استند... آن‌ها با ما فهرست را شریک بسازد.»
در همین حال، منابعی نزدیک به عبدالله عبدالله، از نهایی شدن فهرست نام‌های نامزد وزیرانی که از سوی آقای عبدالله معرفی خواهند شد خبر می‌دهند، اما دفتر آقای عبدالله این فهرست را به‌گونهٔ رسمی تأیید نکرده‌است. ظاهراً اختلاف‌های دورن گروهی از علت‌های تأخیر در روند معرفی شدن کابینه به شمار می‌رود. عبدالله قرلق، معاون حزب جنبش ملی اسلامی افغانستان اظهار داشت: «احتمالاً که به زودی شریک ساخته می‌شود با جانب ارگ. پس امشب یا فردا ممکن کابینه را اعلام بکنند.» در عین حتال میرزا محمد یارمند، معین پیشین وزارت امور داخله نیز افزود: «اگر این‌ها به این شکل باقی بمانند، تداوم دربدری افغانستان است. هیچ‌گاهی ما به هیچ راهی نمی‌رسیم.» تا حال، نامزد وزیران امور خارجه، مالیه، معادن و پترولیم، معارف، امور زنان، صحت، شهرسازی و نامزد رییس ریاست عمومی امنیت ملی و بانک مرکزی از آدرس رئیس‌جمهور غنی معرفی شده‌اند.

## امریکا: په عراق کې د ائتلاف په هوايي بمبارۍ کې د داعش ډلې درې لوی مرکزونه له منځه تللي




د امریکا د پوځ مرکزي قوماندانۍ وایي، د عراق په لرې پرتو سیمو کې یې د اسلامي دولت د ډلې یا داعش درې مشخص شوي پټنځایونه له منځه وړي دي.
د امریکا د پوځ مرکزي قواندانۍ په یوه اعلامیه کې ویلي، په عراق کې د داعش ضد نړیوال ائتلاف د عراق د حکومت په همکارۍ د داعش دغه کمپونه د کرکوک ولایت په وادي الشای کې په نښه کړي دي. د ائتلافي ځواکونو ویاند مایلزي بی کاګینزویلي: «د داعش د پټنځایونو ویجاړول د ښارونو او کلیو د امن کېدو سبب شوي دي.»
هغه زیاته کړې چې د ائتلافي ځواکونو هر بمبارد د عراق د حکومت په غوښتنه شوی ترڅو په بشپړه توګه یاغیانو ته ماتې ورکړل شي.
په ورته وخت کې د امریکا د ترهګرۍ ضد یوه چارواکي ویلي چې د اسلامي دولت د ډلې یا داعش جنګیالي او پلویان چې په عراق او سوریه کې د دې تروریستي ډلې د خلافت د له منځه تللو په نتیجه کې خواره واره شوي، ورځ تر بلې بې باکه او خطرناکه کېږي. د راپورونو له مخې، که څه هم چې داعش په عراق او سوریه کې له منځه تللی، خو په عراق کې د اوږده سیاسي کړکېچ او په سوریه کې د روانو جګړو او نا ارامیو په وجه د دغې ډلې پاتې او خواره واره شوي جنګیالي لا هم یو ستر ګواښ ګڼل کېږي.

## اردوغان: ترکیه د بل هر وخت په پرتله د نړۍ ۱۰ سترو اقتصادي هېوادونو غړیتوب ته نږدې شوې

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردغان ویلي چې هېواد یې هېڅکله د نړۍ په لسو سترو اقتصادي قدرتونو په ډله کې غړیتوب ته دومره نږدې شوی، چې پخوا یې ساری نه دی لیدل شوی. رجب طیب اردغان په تلویزیوني وینا کې ویلي چې د کرونا ویروس له وبا څخه باید د ځان د لرې کولو هڅې زیاتې کړي.
اردغان زیاته کړې: «موږ هېڅکله دې ته چې د نړۍ په لسو سترو اقتصادي قدرتونو کې وګڼل شو نه وو نږدې شوي، موږ یوازې هغه وخت په خپلو هڅو کې بریالي کېدلای شو چې له دې وبا ځان لرې کړو، له دې کبله د داسې هېواد په توګه چې ۸۳ میلیونه وګړي لري، له احتیاط او کلک عزم سره پر مخ حرکت کوو».
دا په داسې حال کې ده چې ترکیې له خوا له روسیې څخه د اېس-۴۰۰ دفاعي سیستم د پېرلو پر سر د ترکیې او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې او واشنګټن انقرې ته خبرداری ورکړی چې که دغه تړون لغوه نه کړي، سخت اقتصادي بندیزونه به پرې ولګول شي، خو ترکیې له دغو ټولو خبرداریو سره سره، بیا هم له روسیې څخه یاد سیستم ترلاسه کړه چې د نصبولو ځینې چارې یې هم پای ته رسېدلې دي.

## ژوند

## د ذهن له قوت او خلاقیت مو خبر یاست؟



که په ژوند کې له کومې ستونزې سره مخ کېږی، ښه ده چې له ځانه وپوښتی، ولې دغه شی ستونزمن دي؟ ځکه انسانان یو خلاق او فوق العاده ذهن لري چې کولی شي هر ډول ستونزې حل کړي. زموږ د ذهن خلاقیت د دې جوګه دی چې را ولاړې شوې ټولې ستونزې په ډېرې اسانۍ سره حل کړي، نو بیا ولې ستونزې ته ستونزه وویل شي. هڅه وکړئ چې تل ستونزو ته د یوه فرصت په توګه وګورئ چې تاسو ته درکړل شوی، څو بریا ته د رسېدو لپاره ترې پوره استفاده وکړی. دغه څه یوازې د قوي مدیرانو ځانګړنه ده. د بشري تاریخ تر ټولو ستر حقیقت دا دی چې په هره ستونزه او سختۍ کې یو قوي درس نغښتی دی چې کولی شي په راتلونکي کې تاسو د بریا لور ته سوق کړي.

## د نعنا چای مو څښلی؟



د نعنا چای پر روغتیا او ښایست سربېره، د سټرېس له کموالي سره مرسته کوي. دغه چای چې د نعنا له پاڼو جوړېږي، د نور معمولي چای برعکس کافیین هم نه لري، نو هغه کسان چې د بې خوبۍ ستونزه لري، کولی شي په ډاډه زړه یې له خوبه مخکې هم وڅښي. دا چې ډېر ښه خوند او بوی لري، نو نن سبا یې د نړۍ د تر ټولو ښه چای ځای هم خپل کړی دی. دغه چای وزن کموي، بې خوبي له منځه وړي، تمرکز مو پیاوړی کوي، تنفسي ناروغۍ له منځه وړي، تبه پرې کوي، د ناروغیو پر وړاندې د بدن مقاومت لوړوي او د معدې دردونه او میکروب له منځه وړي. څه ډول چې دغه چای ګټې لري، نو ځینې جانبي عوارض هم لري. کېدای شي ځینې کسان یې له څښلو سره حساسیت ولري.

ماسټر ډېټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

